# پروگـــــرام کمک هــــــای کــــــوچک

شماره سوم — دار الانشای دفتر مشترک تنظیم انتخابات — جوزا ۱۳۸٤

تهیه کننده مواد : محمد یما مبتکر


## پروگرام کمک هـــــــای کوچک فعالیت هـــــــای خویش را در ولایـــات تـــــــوسعه بخشید!

درماه ثور، پروگرام کمک های کوچک فعالیت های خویش را در ولایات افغانستان توسعه بخشید. پروان و وردک اولین ولایاتی بودند که جهت تاکید روی دوره نامزدی کاندیدان محافل آگاهی عامه انتخاباتی را برگزارنمودند.





جمعي ورځي د لمانځه په خطبه کي د کاندیدانو د نوموني د دورې په اړه مالومات ورکړل شي.

### مرکزی سیمه

**پروان:** د پروان ولایت یو ډیر لېواله ټیم په ټول ولایت کې د ملایانو، قومي مشرانو او له لسو ولسوالیو څخه د ښځو په رابللو سره درې جلا پروګرامونه برابر کړل. په یقین سره چې دې پروګرامـــونو د پـــروان په ولایت کې د کـــاندیـــدانو د نوموني په پــاى کې د کـــانـــدیدانو په زیاتوالــــي کې ښه رول ولوباوه. د ښځو راغونډیدل د ښځو د چارو د ځـــايي ریاست په مټ تنظـــیم شو: د ۲۵۰ څخه زیاتي ښځې د پروان ولایت له ټولو ولسوالیو څخه په دې پروګرام کې ګډون وکړ. دوه ورځې وروسته، نږدې ۳۰۰ قومي مشرانو ته د ۱۳۸٤ کال د ټاکنو او په ځانګړې توګه د کاندیدانو د نوموني د دورې په اړه مالومات ورکړل شول او وړاندیز وشو چې د











**وردک:** د وردکو د ولایت لپاره تر اوسه پورې څلور پروژې ترسره شوي دي چي دوه يي د کوچيانو لپاره او نوري دوه يي د کليوالي ښځو لپاره وي.










**کابل:** تر اوسه پورې کابل کې ٣٤ پروژې تطبيق شوېدي: دا پروژې د کابل د ښار په بېلابېلو ناحيو کې تطبيق شوېدي او يوه يې د کابل ولايت په شمالي کليوالي سيمه يعني د شکردرې په ولسوالی کې تر سره شوېده. دا په دې کليوالي سيمه کې په تېرو ٢٣ کلونو کې د ښځو لومړنی غونډه وه چې د وړو مرستو د پروګرام له برکته جوړه شوې وه! نږدې ٢٥،٠٠٠ تنو په دغو فعاليتونو کې په مستقيمه توګه ونډه درلوده.

**شمال:** تر اوسه پورې اته پروژې منظورې شوېدي چې يوه د بلخ، دوه د جوزجان، درې د سمنګان، او دوه د سرپل لپاره دي.

**سرپل:** د سرپل په ښار کـــــې د فوټبـــــال د ټورنمنټ عکسونه . په دغو لوبو کې نږدې ٥٠٠ تنو ځوانانو برخه اخستې وه . د ټورنمنټ په بهير کې ګډون کوونکو ته د ١٣٨٤ کال د ټاکنو او د افغانستان په بيا ودانولو کـــــې د هغې د اهميت په اړه معلومات ورکړل شول.









**سمنګان:** په سمنګانو کې تراوسه پورې درې پروژې عملي شوېدي: د ايبکو په ښار کې د فوټبال ټورنمنټ ، تيـــاتري ننداره او د ښځو مشاعره. په دغو غونــــــډو کې ١،٨٦٠ تنو نارينه او ښځينه ګډون کوونکو ته د ١٣٨٤ کال د ټاکنو په اړوند معلومات ورکړل شول.

**مرکزي غرنی (لوړې پرتې) سيمې:** پنځه پروژې مرکزي غرنيو سيمو ته ورکړل شويدي: دوه پروژې د دايکندي او درې د پنجاب لپاره.
**جنوب ختيځ:** تر اوسه پورې دوه پروژې د خوست د ولايت لپاره منل شوېدي او او د پکتيکا د ولايت څخه ډېر غوښتنليکونه د منلو لپاره وړاندې شوي او د انتظار په حالت کې دي.
**شمال ختيځ:** تر اوسه د بغلان په ولايت کې درې پروژې تطبيق شويدي.
**جنوب:** تر اوسه پورې دجنوبي حوزې لپاره اووه پروژې منظورې شوېدي. دوه د هلمند ، دوه د کندهار او درې پروژې د نيمروز ولايت لپاره دي.
**لوېديځ:** تر اوسه پورې اته پروژې منظورې شوېدي چې څلور يې دهرات ، يوه د بادغيس او درې د فراه د ولايتونو لپاره دي.
**ختيځ:** د مرکزي د فتر د وړو مرستو د پروګرام تيم د جلال آباد څخه يو غوښتنليک په جريان کې اچولی دی ، خو په دې وروستيو کې د امنيتي ستونزو له کبله د غوښتنليکونو د سپارلو بهير وځنډ يد.